# ټام د کېلو پلورونکی



Humphreys Odunga
Zablon Alex Nguku
Darakhte Danesh
2
پښتو ps



ټام د پخو کېلو یوه ټوکرۍ وړي.



ټام د کېلو پلورلو لپاره بازار ته ځي.



خلک په بازار کې میوه اخلي.



مګر هیڅوک د ټام کېلې نه اخلي. هغوی یوازې دا غواړي چې له مېرمنو څخه میوه واخلي.



زموږ په ټولنه کې يوازې ښځې ميوه پلوري او خلک دا پوښتنه کوي، "چې دا څه ډول سړی دی چې ميوه خرڅوي؟"



مګر ټام حوصله نه بایلي. هغه غږ کوي، "زما څخه کېلې واخلئ! زما خوږې او ښخې کېلې واخلئ!"



يوه مېرمنه له ټوکرۍ څخه يوه غنچه کېلې اخلي. هغه کېلو ته په ځير ګوري.



هغه مېرمنه دا کېلې پېري.




ډېر خلک د ټام ټوکرۍ ته راځي. هغوی د ټام کېلې اخلي او خوري يې.



ډېر ژر ټوکرۍ خالي کېږي. ټام خپلې ګټل شوې پيسې شمېري.



وروسته ټام صابون، بوره او ډوډۍ اخلي. هغه دا شيان خيلې ټوکرۍ کې اچوي.



ټام ټوکرۍ په خپل سر په منظم ډول ږدي او کور ته ځي.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## ټام د کېلو پلورونکی


Humphreys Odunga
Zablon Alex Nguku
Darakhte Danesh


CC BY